جمهوری اسلامی افغـانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو د چلند اصول

## لومړی برخه: عمومي احکام، حدود او موخه (هدف)

دغه د چلند اصول د ټاکنو د قانون د (۵۶) مادې د ورکړل شویو واکونو پر بنسټ د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو د مختلفو ټاکنیزو بهیرونو د ګډون د تنظیم په موخه جوړ شوی دی.
د چلند اصول قانوني او اخلاقي ټاکل شوي معیارونه د سیاسي ګوندونو او کاندیدانو فعالیتونه د رایو ورکوونکو کاندیدانو د نوم ثبتوني بهیر، ټاکنیزې مبارزې، د رایې ورکوني او رایې شمېرنې ورځ تنظیموي.
سیاسي حزبونه، کاندیدان او دهغوی استازي باید د چلند اصول ټاکل شوي آرونه رعایت کړي.
د چلند اصول ماتول یا تړپښو لاندې کول کیدای شي د بندیزونو (تحریمات) لامل و ګرځي او یا د ټاکنو خپلواک کمیسیون له خوا او یا د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له خوا پرېکنده تدبیرونه و نیول شي.

## دویمه برخه: د سیاسي حزبونو او کاندیدانو حقوق او دندې:

د سیاسي ګوندونو ټول رهبران، غړي او خپلواک کاندیدان:
۱- په مختلفو ټاکنیزو بهیرونو کې د ګډون لپاره د بیان آزادی له بنسټیزو حقوقو، غونډو، اجتماع ګانو او فعالیتونو څخه ګټه واخلي.
۲- د هغوی ټاکنیز فعالیتونه نه باید چې د توکمیز، قومي، طبقه یي، ژبني، سیمه ییز، جنسی او مذهبي توپیرونو پر بنسټ ولاړوي.
۳-په سیاسي فعالیتونو او رایې ورکونې کې د ښځو یو شان لاسرسی اوونده باید را منځته شي.
۴- د نورو سیاسي ګوندونو، خپلواکو کاندیدانو او عامو خلکو حقوقو او خپلواکۍ ته درناوی ولري، ترڅو هغوی پرته له وېرې او یا بل خنډ څخه په مختلفو ټاکنیزو بهیرونو کې ګډون وکړي.
۵- د پټې رایې درناوی دې وکړي، د خپلوا استازیو او پلویانو د پوهاوي لپاره دې اړین ګامونه پورته کړي او د پټې رایې د اهمیت سره دې پرمخ ولاړ شي، او هیڅکله دې زیار نه باسي چې د زور په کارولو سره رایه ورکوونکي ځان ته لېوال کړي.
۶- په خپلو لاربښوونو او هدایاتونو کې دې د زور کارول، تاوتریخوالی او یا پر هغې باندې درټلو (تهدید) پر خلاف د نه کولو تینګار او تقویت کول.
۷ - د غیر قانوني و سلوالو ځواکونو لرونکي باید نه وي او یا هم په هغوی کې غړیتوب و نه لري.
۸- د زور، تاو تریخوالي او یا رټلو (تهدید) له کاروني څخه باید ملاتړ ونه کړي، همداراز په هغې کې دې ونډه هم وانخلي، بلکې د داسې پېښو د کېدو په صورت کې هغه باید وغندل شي.
۹- د اسلام سپیڅلي دین اصولو، د اساسي قانون احکامو او د افغانستان نورو قوانینو ته دې درناوی وکړي.
۱۰- دټاکنوپه ټول بهیرکي تل دداسي کلموله کارونو څخه چي دلمسون ، بیزارئ اوتوپیردودلولامل ګرځي لکه توکمیز ، قویی ، ژبنی ، سیمه ییز ، طبقاتي ، جنسی ، یامذهبي شخړوڅخه (ې) ډډه وشي .
۱۱: دټاکنوخپلواک کمیسیون دوتر، دټاکنیز وشکایتونوکمیسیون ، دټاکنوخپلواک کمیسیون دارلانشا اونورو اړوندوڅانګوسره دې دټاکنوپه بهیرکي هراړخیزه مرسته وکړي.
۱۲: ټولي اړیني کړنې دې ترسره کړي ترڅوډاډمن شي چې غړي اودهغوی پلویان دټاکنوقانون ، دچلنددغه اصول دټاکنیزوسرغړونو، کړنداروانوروکړندودونو،دستورونو، لاربښوونواودټاکنوخپلواک کمیسیون، دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون اودټاکنوکمیسیون دارلانشاَ سره پیژنوګلوي لري اودهغوی پرپلونوپل ږدي.

۱۳: ټولي خبرتياوې ، دويرې اوخوف په اړوندشکايتونه ،ياغيرقانوني کړنې، بې له ځنډه دهردوترله لارې يادټاکنومسوولين دټاکنيز وشکايتونوکميسيون يادټاکنوخپلواک کميسيون دوترپاملرونې اوياد بلې لازمې لارې به داړوندو قانويې مقاماتوپاملرنې ته وزسوي .
۱۴: درسيمی شکايتونوڅيړنه يادچلنددغه اصولوماتولوړروندتورونه ، دټاکنيزو سرغړونوکړنلاره ، دټاکنو قانون اونوروکړنلارو، دستورونو، لارښوونواودټاکنوخپلواک کميسيون دوترخبرتياوې ، دټاکنيزوشکايتونو کميسيون اودټاکنودار لانشآ سره مرسته اوکمک وکړي .
۱۵: له درواغوبې بنيوار غيرمواجه شکايتونوورانديې کولوڅخه دې ډډه وکړې.
۱۶: دبهرنيواواوداخلي غيرقانوني منابصونقدي ياجنسي مرستوله قبولوڅخه دې ځان وژغوري.
۱۷: دټاکنيزومبارزوپه بهيرکي دې شخصی ملکيت ته درناوی وکړي دخصوصي املاکودپاسه دانځور، ليکنې، اوتبليغاني موادوځای پرځای کول اوياددغواملاکوڅخه دټاکنيز ومبارزواوفعاليتولپاره دکتې اخسيتوپه صورت کې دې مخکې له مخکې داملاکوله خاوندانوڅخه داجازې غوښتنه وکړي.
۱۸: دتبيلغ په موخه دنورو کانديدانويا حزبونودتبليغاتي موادو لرې کول، خرابول يا زيان رسولا څخه دې مخنيوي وکړي اودهغوی نظرته دې دراناوی وشي.
۱۹: دټاکنورسمي اوقانوني پايلې ( نتيجې) دې ومنې.

زه دپورته يادشويودچلنداصولو په مطالعه اودمفاهيموپه پوهيدوسره دهغې موادرعايتوم .

په ________________ نيټه: / / ۱۳۸

په واسطه د :________________ په استازيتوب د ________________

لاسليک شو:________________ لاسليک:________________
نوم لاسليک